افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعی
۱۵ دسمبر ۲۰۱۱

# د
# علی محمد مخلص
# عرفانی فرهنگ
## د محمد هارون خپل شعشعی
## لیکنه او څیړنه
## ۲۷

**۷۳ - د غیب عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم**

**۷۴- د غیر مسأله :**

د غیر عربي ټکی، په لغت کي د بیل، جلا، بل، ماسوا، پردي او داسي نورو په مانا کاریږي، چي اغیار یي د جمعي حالت دئ ۱. غیرت د غیر له یوځای والي کرکه ده . رخه یا حسادت د هغه منشأ ده . د حق په لار کي غیرت دادئ، چي د چا زړه وغیر [ بل چا، بل شي او بلي خوا ] ته وا نه وړي . د اسلامي تصوف او عرفان لوی مخکښ- جُنید بغدادي ( په ۲۹۷ یا ۲۹۸ هـ ق/ ۹۰۹ م یا ۹۱۰ع کي مړ ) یوازي د ذکر، بی خبری او میني په حالت کي غیرت روا بللئ دئ۲ .

د غیر له منځه وړل، د تصوف او عرفان له ډېرو اساسي او ارزښتناکو مسألو څخه ده . په اسلامي تصوف او عرفان کي د حق تعالی له میني او عبادت سره د بل چایا بل شي شریکول تر ټولو ستره او لو( لویه) ګونا (ګناه) ګڼله کیږي . لکه څنګه چي، د الله سبحانه و تعالی د ذات او صفتو په مسأله کي یادونه سوی ده، د لوی څښتن په ذاتي صفتوکي د غیر منل د هغه ستر ذات له شان او جلال سره بشپړ تضاد او مغایرت لري . عارفان باور لري، چي د انسان په زړه کي د هر بت او حجاب موجودیت د شرک یوه بڼه ده . تر څو زړونه د داسي بتانو او حجابو له میني او طلسمه ونه ژغورل سي، د معرفت او توحید پر لار ګام پور ته کول، ګران او حتا ناممکن کار دئ .

د سالکانو په عرفاني ډېټورینو کي د غیر دنسته والي نظریه ژوره قرآني ریښه لري . حق تعالی د قرآن عظیم الشان د زمر د سوری د درویپنځوسم آیت ( ۳۹: ۵۳)« ان الله یغفر الذنوب جمعیا . . . » له حکم سره سم د انسانانو ټولي ګوناوي بخښي؛ خو د شرک ګونا هیڅکله نه بخښي . د نسآء د سوری په یوسلو

شپاړسم آیت ( ۴: ۱۱۶) کې د حق تعالی له خواد شرک نه بخښولو؛ او د شریک بې لاری ته په داسې څرګندو ټکو اشاره سوې ده : « ان الله لا یغفر ان یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمن یشآء و من یشرک بالله فقد ضل ضللا بعیدا » یاني خدای په ریښتیا سره هغه څوک نه بخښي، چي له ده سره شریک ومني، له خپلې ارادې سره سم، د هغه چا ګونابخښي ( چي تر شرک او کوپر کښته یي ) او هغه څوک، بې شکه بې لارې دئ، چي له خدای سره شریک مني . داسې څوک له خدایه ډېر لیرې او بې لارې دئ . د کهف د سورې په اته دېرشم آیت ( ۱۸: ۳۸) « لکنا هوالله ربی و لا اشرک بربی احدا » کې د خپل یوازني څښتن په توګه د الله تعالی د منلو؛ او له هغه سره د هیچا د نه برابرۍ، خبره راغلې ده . د همدې سورې د شپږ دېرشم آیت په وروستی برخه ( . . . ولا یشرک فی حکمه احدا) کې ویل سوي دي، چي الله سبحانه و تعالی په خپل امر او حُکم کې څوک نه شریکيي . دکهف د سورې د یوسلو لسم آیت ( ۱۸: ۱۱۰) په وروستی برخه ( . . . و لایشرک بعبادة ربه احدا) کې له شرک څخه د ژغورني په اړه ، لاربنوونه سوې ده . د لقمان د سورې په دیارلسم آیت ( ۳۱: ۱۳) « . . . لاتشرک بالله ان الشرک لظلم عظیم » کې بیاهم د شرک د ګونالوی والي ته اشاره سوې ده . د فاطر د سورې د څلوېښتم آیت ( ۳۵: ۴۰) په پیل کې راغلي دي : « قل ارء یتم شرکاء کم الذین تدعون من دون الله ارونی ماذا خلقو الارض ام لهم شرک فی السموت . . . » یاني ( اې محمده! دوی ته ) ووایه! ایا تاسې خپل هغه شریکان وینئ، چي بې خدایه به مو د هغو عبادت کاوه؟ راوښیاست، چي ستاسې دغو معبودانو په مځکه کې څه شی پیداکړي دي؛ او د اسمانو په پیداینت کې څوک ( له خدای سره ) شریک دي . د احقاف د سورت په څلرم آیت ( ۴۶: ۴) کې هم همدغه راز حکم ته اشاره سوې ده .

عارفان، د نور د سورې دېرشم آیت ( ۲۴:۳۰) « قل للمؤمنین یغضو من ابصارهم . . . » داسې تفسیریي : « مؤمنانو ته ووایاست، چي له محارمو سترګې پټې کړي . » عرفاني مځکښان همدې تفسیر ته په پاملرني سره استدلال کیي : « سالکان باید د سر سترګې پټې کړي، چي محارم و نه ګوري؛ او د زړه سترګې پټې کړي، چي غیر و نهویني[۳]. »

صوفي او عارف پر دواړو دنیاوو بې خدایه بل څه نه ویني . د خدای د مینانو یوه نخښه داده، چي تل د اغیارو له مخي پټ؛ او د الله تعالی په فکر او ذکر کې ډوب يي . د ریښتیني مینې لارویان، په هر څه کې یوازې د خپل معشوق مخ ویني . د پاؤسې عرفاني ادب سالار- ابومجد مجدود بن آدم سنایي غزنوي ( د پینځمې هجرې پیړۍ د د وهمې نیمایي په لومړیو یا منځنیو کلوکې، په غزني کې زېږېدلئ؛ او د ۵۲۵ – ۵۴۵ هـ ق کلوتر منځ مړ سوئ ) په خپل مشهور عرفاني اثر ( حدیقة الحقیقة و شریعة الطریقة) کې بې خالق تعالی نور هر څه ظلي، مجازي او خیالي ګڼي؛ او هر هغه څه ته د لوبو او بازیبو په سترګه و ګورئ، چي د لوی څښتن له لارې بېل يي :

« هر چي جز راه حق مجازی دان
هر چي جز کار اوست بازی دان [۴] »

زموږ باریک بین عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپل ژور عارفانه کلام کې د غیر مسأله په هر اړخیزه توګه څېړلې ده . په یوه غزله کې، عرفاني سالکانو ته خبرداری ورکيي، چي د ذات پېژندني او توحید د اساسي عنصر په توګه، تل زړونه د غیر له هرې بنې پاک کړي . د ده په اند، له زړه څخه د شرک د هر شکل او هر ډول په له منځه وړولو سره د حق تعالی بې مثله انوار جلوې کیي :

دل له غیره زنګه پاک کړه!

په کښي مخ گوره قابـله

بل ځای، له بېلابېلو اغيارو ځخه د موحد عارف د زړه په ژغورنه کي و اخلاص ته په ډېره لو سترگه گوري :

چي بي غير په نظر کښي نه کښېـوزي

موحد عارف خبر شـــه له اخلاصـه

چي موجود دي ماسوا وي په خاطر کښـي

بدمشرک غافل دورتر شه له اخلاصه

مخلص، پر ټولو عالمو يوازي يوه هستي گوري، هغه ناپايه او تلپاتي هستي، چي دکايناتو ټول مخلوقات او موجودات په ژوندي دي؛ او تر دی هستی دباندي بل هيڅ شی نسته . دی مقام ته نو په اسلامي عرفان کي د « وحدت الوجود » مقام وايي، چي تر خورا ډېرو عرفاني کوښښو او رياضتو وروسته تر لاسه کيږي . د ده کلام دئ، چي وايي :

ف فاني گمـان حرام دئ

چي نېست هست گڼي انعام دئ

نېست موجود په جهان نشته

غير چري کـوم ، کدام دئ

د مخلص له عرفاني ډکتورينو سره سم د توحيد لمر هغه مهال د انسان پر زړه انوارخپريي، چي تر هرڅه مخکي د اغيارو له بنده وژغورل سي :

لام الف د لا خنـجر شه

پري عدم د غير اثر شه

چي اثر ورک شي د غير

د توحيدځرگندقمـر شه

په يوه پارسي مثنوي کي د شرک تيارو او اپتو( افتو) ته گوري؛ او د الله تعالی د لايزالي هستی پلټونکو ته بلنه ورکيي، چي لومړی اغيار و پيژني؛ او بيا د حق په پيژندنه او موندنه کي هڅه وکړی :

« بعضی ها از گفتهٔ ديـــو هوا

رفته اند در ظلمت شرک ای مها

نيست از حق مشرکان را وفر سود

جز خواری و پريشــانی درود

قول و گفتارش بقدر علم و عقل

فکر شان از گفتن شان کـردن نقل

عزت اندر جستجوی غير نيست

غير را در ملک عزت سير نيست

همچنين غير بشناسی چی ســـود

تا نه شنـــاسی خدا را ای ودود ۵»

په بله پاړسي مثنوي کي دي حقیقت ته ګوته نیسي، چي د بتانو او حجابو په له منځه وړلو سره د اغیارو بلاوي او مصیبتونه هم له منځه ځي؛ په بله ژبه، د اغیارو او اړیکو په نفي کولو سره یوازي د یوه محبوب مینه پر زړه کښېني؛ او د توحید لمر تجلا مومي :

گر شوی از غیر حق بیـزار تو
محو گردانی بلا اغیار تو
غیر چی دانی آن گمان غیر دان
غیر نبود این زمین و آسـمان
جمله حق بحق اند این مشتعل
نیستند از خود همه این آب وگل
غیر آن باشد که آواز خود بـــود
هم قیامش از خود و هـم خود رود

***

په هر څه کي به تابان ګوري د یـــار مخ
په دا لا نفي، نفي کړه د اغیـــار مخ
بد ګمان د غیریت تر میان غبــــــار دئ
شرک، غبار کړه بر طرف ګوره اظهار مخ
که حجاب د غیریت له میانه واخلـي !
پر هر لور به عیان ګوري د نـګار مخ

مخلص، په دغو بیتو کي دا عرفاني نظریه بیانیي، چي د انسان وجود او بشري خویونه، په خپله د ریښتیني وصال په لار کي خنډونه او حجابونه دي . په بله وینا، د حق تعالی له بي ساري هستی سره پیوستون یوازي هغه مهال مُیسر دئ، چي د حق لاروی خپل وجود او هستي هېره کړي :

این وجود بهر عصـیان آمده
وین خودیت بهر کفـران آمده
چون خودی رفت و خدا آمد پدید
چون خدای آمد گناه ز آنجا پرید
غیر حق رامحو کن گر عـارفی
آن گمان تست آن را کُـن نفی
چون گمانت رفت یکی بینی همه
این و آن در ذات حق بیـنی همه

کله چي په زړه کي د نورو مینه او ښَوَب له منځه ولاړ سي، له هغه سره د شرک او بت پرستی تولي جرړي هم له بېخه وزي؛ او موحد عارف په هر څه کي بې خدایه بل څه نه ګوري :

« چونکه غیرت بشد از دل عـدم
شرک رفت و محو گردانید صنم ۶ »

بل ځای، د انسان  هستي ډوله وجود دغیرګومان بولي؛ کله چي دا خودي له منځه ولاړه، د عاشق او معشوق تر منځ ټول حجابونه هم په خپله لیري کیږي؛ او انسان  یوازي د یار د ښایست ناپایه او بې ساري  سمندر ګوري :

غیر نشته په جهان کښي
بد ګمان له زړه جدا کړه!
تماشا کاندي په خپله
ته خودي خپله فنأ کړه!
ستا خودي د غیر ګمان دئ
له زړه محوه دا احبأ کړه!
که دغه ګرد ناپـدید شي
ننداره د لوی دریـا کړه!

په یوه غزله کي د هغو کسانو درواغجني ځبري رسوا کیږي، چي شپه او ورځ په خوله د خدای او رسول د د ین ناري وهي؛ خو په باطن کي د یوې ګولې رزق دپاره د سلو ناکسانو دروازې ټکیږي؛ چا ته د مدیر او رییس، چاته د وزیر اوسلطان  په ویلو سره ډول ډول  تمي او اسرې کیږي . مخلص، په ډاګه وایي، چي دا کسان د روښانه قرآني حُکمو له مخي هیڅکله د حق تعالی د دوستی او پیرزویني مقام ته نسي رسېدلای :

چي اسره لري د غیر په خاطر کښي
د مولا پر در محسوب دي له مذاذه
وایاک نستعین ۷بیهـوده لولي
چي له غیرو ده باري ناقه شمـاذه
په هر کار مدد له ده غواړه مخلصه !
د بل کس مدد، یاري نه ده نفـاذه

مخلص، د وحدت الوجود د فلسفي په نورو  انځورو کي د غیر نسته والی داسي انځوریي :

غیر نشته په دوه کونه
آب میوه اوبه یي رس دئ
بد هوس ګمان د غیر
غیر فکر دي عبس دئ
***
له غیرته یي کُل غـــیر بر طرف که
په شپږ لوري شه موجود ګلزار زما
***
د پرهیز ښکه مي وکړه له کُل غیره
د یار حُب شه په باطـن زنار زما

لمنليكونه

١ عميد ٣: ١٧٩٣ ؛ Wehr 690.

٢ سجادی ٣٥٣ .

٣ يثربی ١٣٥ .

٤ سنايي ٤٦٢ .

٥ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ١٥٨ .

٦ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ١٥٣- ١٥٤ .

٧ د فاتحي د سورت د پينځم آيت ( ١ : ٥ ) وروستی برخه . ياني ستا څخه مرسته غواړو.